تعدیل

# د ټاکنو په بهیر کې د ټولیزو رسنو د فعالیتونو د تنظیم لایحه

اساس

لومړی ماده:

دغه لایحه د ۱۰۸ مادې د (۱) فقرې او د ۱۹ مادې د ۶ بند (۱) فقرې د احکام پر بنسټ او د ټاکنو قانون (تعدیل) ۷۷ او ۷۸ مادو د احکامو په پام کې نیولو سره، د ټاکنو خپلواک کمیسیون (وروسته له دې کمیسیون) له خوا وضع شوې ده.

موخه

دوهمه ماده:

دغه لایحه د ټاکنو په بهیر کې د دولتي او خصوصي ټولیزو رسنیو د فعالیتونو اړونده چارې تنظیموي.

د عامه پوهاوي په موخه د رسنیو دندې او مکلفیتونه

دریمه ماده:

(۱) ټولیزې رسنۍ، د ټاکنو بهیر په اړه خلکو ته د عامه پوهاوي او په دغه بهیر کې د خلکو د ګډون د کچې لوړوالي په موخه، له کمیسیون، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ( له دې وروسته د شکایتونو کمیسیون) او د رسنیو له کمیټې سره هر اړخیزه همکاري او په لاندې مواردو کې اطلاع رسونه کوي:

۱. . د رایې ورکولو حق او د ټاکنو ارزښت.
۲. د نوماندانو ټګلارې، پروګرامونه، کړنلارې او موخې.
۳. د ټاکنیزو سیالیو اړوند موضوعات.
۴. د ټاکنیزو مسائلو په اړه معلومات وړاندې کول او د کمیسیون د پالیسیو په رعایتولو سره په ټاکنو کې د خلکو ګډون.
۵. په داسې بڼه خلکو ته د هغوی سیاسي او مدني حقوقو په اړه عامه پوهاوی او د معلوماتو وړاندې کول چې هغوی د ټاکنو په بهیر کې د ګډون لپاره وهڅول شي.

(۲) هغه ټولیزې رسنۍ او نور اړونده (کورني او بهرني) بنسټونه چې د هیواد د وګړو د سیاسي حقوقو او د ټاکنو په بهیر کې د هغوی د ګډون په اړه معلومات برابروي او هم د هغوی د پوهاوي په برخه کې له کمیسیون سره مرسته کوي. باید د خپلو پیغامونو په جوړولو، نشر او خپرولو کې د کمیسیون لایحې، طرزالعملونه او نورې مصوبې په پام کې ونیسي.

(۳) ټولیزې رسنۍ نشي کولای چې د کمیسیون له لیکلي موافقې پرته په ټاکنیزو پیغامونو کې له نښانونو او نورو رسمي ټاکنیزو علایمو څخه استفاده وکړي.

(۴) دولتي او خصوصي رسنۍ نشي کولای چې د ټاکنو تقویم په مطابق د نوماندانو ورستي نوملړ خپرولو او د ټاکنیزو مبارزو تر منځ موده کې، د نوماندانو هیڅ ډول فعالیت د خبر، راپور، تبلیغاتي مصاحبې، انځور او تجارتي اعلان په توګه نشر، خپور او چاپ کړي او یا د ټاکنو بهیر اړونده موضوعات لپاره هغوی د کارپوه، د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز مسایلو د شنونکي او نورو ورته مواردو په اړه، بلنه ورکړي.

دټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

(۵) کمیسیون رسنیو ته د یو شان معلوماتو وړاندې کولو او آسانتیاوو برابرولو په اړه؛ ژمن دی. ټولیزې رسنۍ د واقعیتونو پر بنسټ، منصفانه، کره او بې پرې ټاکنیز راپورونه چمتو او خپروي.

(۶) ټولیزې رسنۍ د هغو راپورونو چې مذهبي، نژادي، قومي، ژبني، سمتي او جنسيتي تبعیض رامنځته کوي او د هغو پروګرامونو چې د ټاکنو بهیر خلاف وي، له خپرولو او نشرولو څخه ډډه کوي.

(۷) رسنۍ مکلفې دي، دهغو پیسو په اړه چې د ټاکنیزو مبارزو په موده کې يې له نوماندانو ترلاسه کړي، کمیسیون ته راپور وړاندې کړي. دا راپور باید د پیغام د خپرولو بیعه، موده او یا د پیغام د خپرولو خلونه او موضوعات په ښکاره توګه بیان کړي.

(۸) رسنۍ د هر ډول آمارو او د هغو نظرغوښتنو چې په یو ډول عامه اذهان ګډوډوي او د نوماند او یا ځانګړو نوماندانو په ګټه یا زیان وي، له خپرولو او نشرولو څخه ډډه کوي.

(۹) رسنۍ د دندو ترسره کیدو او خپل تعهداتو په اړه؛ له کمیسیون، نوماندانو او نورو اړوندو خواوو سره په رښتیني توګه کار کوي.

(۱۰) رسنۍ مکلف دي چې د ټاکنو او ټاکنیزو مبارزو اړوند موضوعاتو د نشر او خپرولو په وخت؛ ملي ګټې، معنوي ارزښتونه، اخلاقي اصول او سلامتیا او د خلکو رواني امنیت خوندي وساتي.

(۱۱) هغه بهرنۍ رسنۍ چې د نافذه قوانینو پر بنسټ افغانستان کې فعالیت لري، کولای شي د اعتبارلیک ترلاسه کولو لپاره کمیسیون ته مراجعه وکړي.

## د وګړو شخصي حریم او شخصیت ته درناوی

څلورمه ماده:

(۱) ټولیزې رسنۍ د اشخاصو شخصیت او کرامت ته په درنه سترګه ګوري او د هغوي په شخصي حریم کې لاسوهنه او یا تیری نه کوي.

(۲) ټولیزې رسنۍ د هغو مطالبو له نشر او خپرولو څخه چې د اشخاصو سپکاوي، تحقیر (رټنه) او یا د شخصي حریم د نقض لامل ګرځي، په کلکه توګه ډډه کوي.

(۳) رسنۍ د هغو مطالبو او راپورنو د تولید، تکثیر او چاپ څخه ډډه کوي چې د اشخاصو په اړه د افتراء او تهمت لرونکي وي او یا د هغوی د شخصیت او اعتبار د زیامن کیدلو لامل ګرځي.

## له نوماندانو سره یو شان چلند کول

پنځمه ماده:

(۱) ټولیزې رسنۍ باید ټولنیز عدالت او د وګړو حقوقو ته په پام سره، له ټولو نوماندانو سره منصفانه چلند ولري او د امکان تر کچې د نوماندانو د لید لوري خپرولو لپاره یو شان شرایط برابر کړي.

(۲) د ټاکنیزو سیالیو په موده کې ټولیزې رسنۍ اړې دې چې د امکان تر حده د عامه پوهاوي په موخه د نوماندانو موخې، نظریات او مرامنامې په مساویانه او بې پرې توګه نشر او خپرې کړي او هغوی ته یو شان لازمي آسانتیاوې برابرې کړي.

(۳) ټولیزې رسنۍ د نوماندانو او سیاسي احزابو د موخو، کړنلارو او دریځ نیوني په خپرولو او نشرولو کې توازن رعایتوي او په دې اړه خپل کړنې په بې پرې توګه ترسره کوي.

دټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

(۴) دولتي رسنۍ مکلف دي تر څو داسې تابیاوې ترلاسه لاندې ونیسي چې د ټاکنیزو مبارزو په موده کې سیاسي ګوندونو، نوماندانو او د مدني ټولنو بنسټونو ته یو شان فرصتونه برابر شي چې په عادلانه توګه دولتي رسنیو ته لاس رسی ولري تر څو د نوماندانو موخې، برنامې او کړنلارې په مساویانه توګه نشر او خپرې شي او یو شانوالی پکې رعایت شي.

## د راډیویي او تلویزیوني پروګرامونو چلوونکي

شپږمه ماده:

(۱) د رسنیو د امتیاز خاوندان، ژورنالیستان، د راډیویي او تلویزیوني پروګرامونو جوړونکي او چلوونکي، په دولتي او خصوصي رسنیو کې با نفوذه اشخاص او د خبر ویوونکي چې په عین حال کې د ولسمشري نوماندان هم وي، د ټاکنیزو مبارزو په ټاکلې موده او د سکوت په دوره کې نشي کولای چې په راډیویي او تلویزیوني پروګرامونو کې د چلوونکي او یا ویوونکي په توګه برخه واخلي.

(۲) پورته ذکر شوي کسان کولای شي چې د دغې لایحې او اړونده طرزالعملونو د احکامو پر بنسټ، د نوماند په توګه په ټاکنیزو پروګرامونو کې ګډون وکړي.

## رسنیزې ناستې

اوومه ماده:

(۱) دولتي او خصوصي ټولیزې رسنۍ په رسنیزو ناستو کې د نوماندانو د موقف په نظر کې نیولو څخه پرته له ټولو ګډون کوونکو نوماندانو سره، مساویانه چلند کوي او هیڅکله هم کوم ځانګړي نوماند ته امتیاز او یا ځانګړی محدودیت نه ورکوي.

(۲) ټولیزې رسنۍ مکلفې دي تر څو په مرکو، راډیویي او تلویزیوني مناظرو او نورو ورته پروګرامونو کې چې د نوماندانو په ګډون سره یې جوړوي، هغه نوماندان چې په دغو پروګرامونو کې د ګډون هیله مند وي، د ګډون مساویانه آسانتیاوې برابرې کړي.

(۳) ټولیزې رسنۍ چې د نوماندانو تر منځ مناظرې ترسره کوي، د نوماندانو د پوښتنو په طرحه، د وخت ورکړه او د نورو ډیرې موضوعاتو په هکله باید له ټولو نوماندانو سره یو شان چلند ولري.

## راپور ورکول

اتمه ماده:

(۱) ټولیزې رسنۍ باید د ټاکنیزو مبارزو په ټاکلې موده کې د نوماندانو د ټاکنیزو مبارزو د خپرولو او نشرولو او د هغوی د تبلیغاتي پیغامونو څخه د ترلاسه شویو پیسو په اړه، د ټاکنیزو سیالیو د دورې په پای کې د کمیسیون د رسنیو کمیټې ته راپور وړاندې کړي.

(۲) ټولیزې رسنۍ، د ټاکنیزو مبارزو په موده کې د نوماندانو په اړه د نظر غوښتنې هغه پایلې چې د نوماند او یا نوماندانو په ګټه او یا زیان تمامیږي نه خپروي او نه نشروي.

## د سکوت دوره

نهمه ماده:

د ټاکنیزې مبارزې پړاو د ټاکنو له ورځې ۴۸ ساعته مخکې پای ته رسیږي. رسنی د ټاکنیزو مبارزو د مودې له پای ته رسیدو وروسته، د سکوت په دوره کې مکلفې دي چې:

۱. د هیڅ یو نوماند د ټاکنیزو سیالیو اړوند فعالیتونه تر پوښښ لاندې را نه ولي.

۲. د نوماندانو د تبلیغاتو خپرولو او نشرولو څخه دې ډډه وکړي.

۳. د ټاکنو پایلو په اړه د وړاندوینې او فکر کونې او یا د ټاکنو څخه مخکې د وړاندې نظر غوښتنې او یا ارزونې دې نه خپروي.

## وروستنې حکمونه

لسمه ماده:

(۱) د رسنیو کمیټه د رسنیزو اړونده نورو فعالیتونو د تنظیم لپاره ځانګړې طرزالعملونه تسویدوي. دغه طرزالعملونه د کمیسون له تصویب وروسته نافذیږي.

(۲) د دغې لایحې د احکامو نه رعایت تخلف (سرغړونه) شمیرل کیږي. د رسنیو کمیټه د ټاکنو قانون، نورو نافذه قوانینو او اړونده طرزالعملونو پربنسټ له متخلفینو سره چلند کوي.

## له قوانینو سره مطابقت

یولسمه ماده:

د دغې لایحې هیڅ یو حکم د نافذه قوانینو د احکامو په مغایرت کې تعبیر او تفسیر کیدای نشي. د مغایرت په صورت کې، د اړونده قوانینو احکام د اجراء وړ دي.

## انفاذ

دولسمه ماده:

دغه لایحه د تصویب له نیټې څخه وروسته نافذه او خپریږي.